بسم الله الرحمن الرحیم

## د افغانستان د ملي حرکتونو ایتلاف

## اعلامیه

د ۱۴۰۲ کال د تلې پر لمړۍ نیټې چې د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر له ۲۳ سره برابره ده، پنځو نهادونو:

د افغانستان د گفتمان ملي حرکت،

د افغانستان د سولې او عدالت ملي حرکت،

د افغانستان د ملي پیوستون حرکت،

د افغانستان د خلکو د انسجام شورا، او د افغانستان د همدلۍ بهیر

خپلو ګډو اهدافو او لیدلورو ته په پام سره او په ملي کچه خپل تر منځ د خپلو هلو ځلو د همغږي کولو په موخه «د افغانستان د ملي حرکتونو ایتلاف» رامنځته او خپل موجودیت یې رسماً اعلان کړ.

دغه ایتلاف باور لري چې په تېروکابو پنځلسو کلونو کې د افغانستان د خلکو کړاوونو او مصیبتونو اصلي عوامل د ویجاړونکو جنګونو  تحمیلول چې بهرني ریښې یې لرلې،د خلکو آزادې ارادې ته اعتناء نه کول، د واک انحصار، د یو بل نه منل، او د افغانستان د خلکو  اساسي حقونو او آزادیو، بیا په ځانګړې توګه د ښځو قانوني حقونو اتر پښو لاندې کول هیواد یې له ژورو بحرانونو سره مخ کړی چېله امله یې زموږ پر ولس ستر ظلمونه شوي دي. د دغو مشکلاتو د لیرې کولو  په موخه او د اتباعو اساسي حقونو او آزادیو لکه د هیواد اوسني او راتلونکي برخلیک په ټاکنې کې د ولس د پریکړې حق ته په پام سره، په ملي کچه ټول هغه افغانان چې له اوسني وضعیت څخه ناراضه دي، یووالي او سولییزې مبارزې رابلل کیږي.

د ایتلاف له نظره، تلپاتې سولې ته  رسیدل او بین الافغاني مذاکراتو او پریکړو له لارې د افغانستان د خلکو د آزادې ارادې پر اساس د یوه مشروع نظام استقرار، له تبعیض، تعصب، قومي، مذهبي، جنسیتي او ژبنیو اختلافاتو سره مبارزه چې له اسلامي او نړیوالو ارزښتونو او ملي منافعو سره کاملاً په ټکر کې دي، د دغه ایتلاف ستر اهداف ټاکي.

په حقیقت کې، دغه ایتلاف د افغانستان په کچه د یوه منسجم خوځښت زیری دی چې د رامنځته کیدو فلسفه یې د قانون حاکمیت  او د ټولنیز عدالت ټینګښت، وده او پرمختګ، او د هیواد نړیوالو ژمنو تحکیمیدل جوړوي. همداراز د هیواد له هغو نورو سیاسي نهادونو سره دوامداره همکاري، چې تلپاتې سولې، د خلکو د ارادې پر اساس سیاسي نظام، او اتباعو حقونو باندې باور لري او ورته ژمن دي، د دغه ایتلاف د اجنډا په سر کې ځای لري.

د افغانستان د ملي حرکتونو ایتلاف د افغانستان د خلکو برحقه غوښتنو او هیلو ته په پوره ژمنتیا او پورته یاد شویو اهدافو ته د رسیدو په خاطر له نورو ټولو سیاسي او مدني جریانونو سره د خپل همکارۍ چمتوالی په پوره اخلاص او ټینګې ارادې سره اعلانوي.

ومن الله توفیق